


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحیم

بسم الله الرحمن الرحیم

## دکتاب پېژندنه


دکتاب نوم ::: مینه مروره شوه

شاعر ::: عبدالقادرمجرم

خپروونکی ::: هیواد ادبي یون

دچاپ کتابونو شمېر ::: (۵۰۰)

کمپوز ::: شاعرخپله

دپښتۍ انځور ::: شاعرخپله

چاپ کال ::: 2012 م


هیواد ادبي یون کلاسیف الله

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مننه

د دې دواړو پر پښتو مېئنومشرانو لکه

عبدالخالق مندوخېل صاحب

ډېټېي سکټري هیلتّه کوټه

او

جلال الرحمن شرصاحب

د کندهاراوسېدونکی چي په نه دید اونه شناخت يې زما د دې کتاب مالي لګښت پرخپلواوږو واخيست ......

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه

- محمدنعیم ازاد صاحب
- حافظ کلیم الله حنفی صاحب
- علي محمد سباؤن صاحب
- امیرمحمدلیکوال
- واجدتړی
- نقیب الله افغان
- عنایت الله اولس مل
- محمدصابر روښان
- سنګریارجوګیزی
- محمداعظیم کاکړصاحب
- عبدالرزاق پښتون
- کامرېډ محمدابراهیم موسی زی
- عبدالقاهر،ډي ایچ او افس کلاسیف الله

چي هروخت یې راسره مینه کړی ده ..

**مجرم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تړون

دهغه ستړي په نامه چې زما

د نيمګړي ژوند همسفر دی



عبدالقادر مجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "د مروري ميني د شعر انځور"

زه فکر کوم چي د کتاب سريزه د کتاب پېژندني پيلامه ګڼل کيږي. چي له لوستونکي سره مرسته وکاندي. او ځيني داسي غوټي ورته و سپړلای شي چي د ليکوال په اند لوستونکي له ستونزو سره مخامخ نه شي. په ځانګړي ډول په شعر کي داسي خوږخيزه کيفيت يا څرنګوالی ديوه شعر په لوستلو سره کله کله رامنځ ته شي. چي پرته له شاعر څخه د هغه په اړه پريکنده خبره څوك نه شي کولای. خو بيا هم خپل مطلب ورځني تر لاسه کولای شي.

په شعر کي د شاعر موندل که دومره ګران کارنه برېښي نو دومره اسان هم نه دی. که څه هم د شعر په هنداره کي کتل خو د شاعر څهره له ورايه څرګندوي خو د شاعر د زړه خبري ته رسېدل بيا هم ژوري ځير کتني ته اړتيا لري. او د شعر ځير کتنه يا د هغه تل(ژورو) ته رسېدل د شعر پوهني ژور استعداد ځير کتيا او د فکر غوپې غواړي. چي د شعر ژوروته لوستونکی ورکوز کاندي. او د شعر په درياب زړه کي ګوهر وموندلای شي. د ښاغلي عبدالقادر مجرم شعر هم په خپل ځان کي يوه دنيا لري . خو ساده ژبه يې ځانګړتياده چي هېڅ پېچلتيا نه لري . او لوستونکي يې د شعر د دنيا سيل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړي کوي . ديوه ډېر درانه پوهاند کره خبره چي دمتن تر
تېولو دپام وړکمزوري داوي . چي سپړني يا شرحه ته اړتيا
ولري . د ښاغلي مجرم شعر له دې کمزورۍ بې برخي دی. او
دغه هنري ځانګړتيا يې د ډاډ وړ ده.

دا خبره وخت لاپوهانو اټلې او جوته کړې ده . چي
شعردنورو هنرونو په څنګ کي يو هنر دی . لکه څنګه چي يو
پژی جوړوونکی (مجسمه ساز) هنر مند په يوه کاڼي کي په
هنري مينه اوتوان د يو چاڅهره جوړوي . او زړه يې پر خپله
پنځونه (تخليق)باندي له خپلي هنري چينې څخه د ډاډ په اوبو
ځان او بولاۍ شي . نو ځير کتونکی په کاڼي کي له جوړي کړل
شوي څهرې څخه د هنرمند د زړه خبره رابر سېره کولاۍ او
جوتولاۍ شي، ځيرکتونکی انځوريز هنر په ژور کاته تلي، او
بيا يې ارزښت او مرام ټاکي که هنر مند د کاڼي په زړه کي د
يوې پېغلي څهره رغولې وي ځيرکتونکی پوهيږي چي هنر
مند له څه سره مينه لري . او که د هنر مند په هنري ګوتو په
کاڼي کي د بودا يا بوډا پژی رغول شوی وي، ځيرکتونکی
ترې جوتولاۍ شي . چي د رغوونکي د زړه ميلان کوم لوري ته
دی . شعر هم دومره توان لري . چي د شاعر د زړه خبره انځور
کړي . د خپل محبوب کاڼي زړه ته لاره جوړه کړي او د شعر په
شاباز(مضراب) يې د زړه درباب پر تارونوباندي د ميني نغمه
سور کاندي . او په دغه زمزمه او ګونېدلو سره دومره وس

(c) ketabton.com: The Digital Library


لري . چي د مېئن زړه هيلي ژوندۍ وساتلای شي .
اولوستونکی ترې د شاعر څهره او ځيرکتونکی يې د زړه تر خبري پوري رسېدلای شي ښاغلی عبدالقادر مجرم هم د ژوند دنړۍ له هغو لارويانو څخه دی . چي د خپل زړه د ږغ د رسولو لپاره يې د شعر لاره غوره کړې او تر خپله وسه پوري يې په دې لاره کي بريالي ګامونه اخستي دي . په ډېر لوی زړه يې د خپلي محبوبې په مخ کي دا ژمنه کړې او ځان يې مسئول ګڼلی دی چي.

لګــومـــه ورځ که نه ووزه مجرم يمه

ستا ذکر به زما په هر مضمون کي وي

دښاغلي مجرم په شعر لوستلو لوستونکي په ښه ډول د شاعر مينه (محبوبه) جوتولای شي . چي د شاعر مينه د هغه خپله ښتني ټولنه ده . چي د ژوند چاپېريال يې ډېر ځوروونکی دی، بي اجله مرګونی چاپېريال پرکنډواله شوي وطن باندي په خوره شوې تياره کي وېروونکي ږغونه چېري چي د هر وګړي پر مخ بله بڼه پرته وي، د زړونو په کور کي دوير پرکمبله د ميني او عاطفې پاتا اخستله کيږي . په يو داسي چاپېريال کي د ميني ستايل او د ژوند نغمه ژغول چي رښتيا هم په کنډواله کي د پاتي دروازې زنځير شرنګول ښکاري .
چي له مقابل لوري څخه دږغ نه ځوابېدل يې سړی نهيلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي . خو د ښاغلي مجرم مینه په داسي تر هېدونکي چاپېریال کي هم نهیلیو ته غاړه نه ږدي . د ژوندانه د هیلو نیالګي دزړه په وینو ساتي . روزنه یې کوي او غوړېدلي ژوند ته یې انتظار باسي . او په دې هیله دی چي .

مجرم ه ـمېش په دې مـجـرم يمه زه

يو وخت به دا نهال شي لوئ درخته

د شاعر فکر د ټولني مهالنیز چاپېریال له ځانه سره ساتلی او د ژوند لوړو ژورو او ستړو ستومانیو ته یې ځرك دی . خیال یې دیوه سپېڅلي مئین غوندي د خپلي میني د ښه ژوند جوړولو خوبونهویني . چي مینه یې د هیلو په ګړندۍ ساتلو کي مرستندویه ده.

بشپړه پېړۍ ته رسیږي، چي زموږ له خپل وجود څخه دراتروړل شوي برخي د شاعر ذهن د ښکېلاك او ځېښناك سره په مبارزه یا مقاومت کي بوخت پاته شوی او ګړندی رول یې لرلی دی . چي ډېره برخه یې د خدایي خدمتګار غورځنګ راپنځوونکی ذهن رغوي . چي د ژوند د دې تړلي مکتب وریې پرېښتو شعر پرانیست، او له کبله یې ګڼ شمېر شاعرانو د ټولنیز ژوند په هراړ خیزه ځرګندونه او یا دونه سره د پښتني ټولني فکري بهیر دراویښېدو او د ژوند لاري د ځلولو سره د ټول پښتون افغان د یو والي دریغ توان هم و

(c) ketabton.com: The Digital Library


موند. او د پښتون د ټولنيز ژوند د غوښتني د بهير د زړه ړغ يې په ډېره ښه توګه په هم دې ښوونځي کي تدريس او داولس د سيال ژوند لارښود وګرزاوه چي د اولس د فکر پر دښته يې د خپلواکۍ دايښي نيالګي ډېره په زړه پوري پالنه اوروزنه وکړه. او شعر خپل ارزښت په ټولنيز فکر رغولو کي جوت کړی، ښاغلی شاعر مجرم هم د دغه لاري لاروی دی . چي د خپل شعر پر ورغوي يې د ټولنيز ژوند د هيلو ځلنده ډيوې را اخستي چي د نهيليو په تياره کي د ژوند دلوري څرك ورکوي . د هيواد تېر شوي سترسړي (شخصيت) علامه جمال الدين افغان د ژبي د ارزښت په اړه ويلي دي . چي د ملت د پايښت دپاره ژبه ترمذهب لوی اساس اوبنياد دی، نو شعر هم د نورو ادبي اصنافو په څېر وژبه ته په ادبي واك وربخښلو او غوړولو کي درنه او په زړه پوري برخه لري . لکه له زړونو څخه چي دزنګ لېري کېدوتوان لري . هم دغه راز د ملت او ټولني دودانۍ دغه اساسي ستن يا "تمبه" ژبه، د وخت له زنګونو او ښرو څخه ژغورلې ساتي، ښاغلی مجرم هم د ټولني پام د ژبي د هېرېدو او زمورې د بې پامۍ لورته را اړوي . او د ژبي په ارزښت يې د خبرتيا خپله فريضه تر سره کوي . ولي چي د خپلي دندي احساس درلودل او له هغې عهدې څخه دوتلو امکان نه درلودل، يو اذيت ناکه يا دردوونکی څرنګوالی وي چي ښاغلی سليم راز صاحب يې څه داسي څرګندوي چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احساس لـه اذيته

زه لمحه لمحه قتليږم

ښاغلی قادر مجرم هم په دغسي چاپېريال کي خپله ټولنه ته داسي پېغور ورکوي :

موږ خو د نورو زده کولې ژبي

د خپلي ژبي ه ېرېدل لفظونه

په پښتو شعر کي داسي پېغورونه ډېر اورېد ژوندلري، چي د پښتو پلار خوشال خان بابا هم دا ګيله کړې چي :

لـه تـازي ژبـه ه ـر ګـوره ښه ده

فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده

چايي پـلولـه م ـخ ـه وانـه خست

پـښتـو لاه ـسي بـ ـکره پرته ده

د بابا د زړه درغ او د خپلي ژبي سره مينه وموږ ته د ملت او ټولني په ژوندکي د ژبي ارزښت راپه ګوته کوي . چي د پوهي او ادبي واك څښتنه ژبه د ژوند بار پروړو تر هره وخته او هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایه پوري ورړلای شي . بابا د نورو ژبو پر خوښولو برسېره په خپله ژبه ویاړ کوي او وايي چي :

پــارسي شـعـر مـي هـم زده سلیقه لرم د دواړو

په پښتو کي شعر وایم هر څوك خپل لري ښاغلي

پېغور د"پرې غور" لنډون دی . پېغور هغه وخت چاته ورکول کیږي چي خبره د غور وړوي . او هغه ته پرې د غور کولو لپاره ویل کیږي . وتولنه ته دغه دژبي د هېرېدو پېغور ډېرو شاعرانو ورکړی دی . چي بیا ډېرودرنو مشرانو داولس د پوهولو وسیله ورځني جوړه کړې لکه محمد ګل خان مومند بابا چي په هره غونډه اوناسته کي به یې په دې شعر د ټولني احساسات راپارول، او پام به یې ژبي ته را اړاوه . چي :

د بل ژبه زده کول که لوی کمال دی

خـپلـه ژبـه هـېرول بې کمالي ده

پر داسي وړ پېغورونو برسېره چي د ټولني پام یې دې اساسي ارزښت ته راګرزولی دی . او خپل ضمیر یې د ټولني په ځیر کولو سره ډاډه کړی او خپله ادبي دنده یې تر خپله وسه پوري تر سره کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښاغلي مجرم په شاعري کي د ننني پښتني ټولني ژوند چي کوموبدمرغيو او ناغيړيو په غيږ کي نيولی دی . د هغو ناوړ تياوو انځور په ټولنيز ډول داسي رغوي چي د کارنده سړيو کاختي په بدبختي اوبې بختي ګڼل، تش په خبرو د هيواد جوړېدوته لاره څارل، غله ته په غله نه ويل، وچاته د بداورد په ګوتو کولو توان نه لرل . خپله تادا (ګناه) پر بل اړول، په خپلو لاسونو د خپل کور نړول، خپل پرېدي ګڼل پرېدي خپل ګڼل، د تربور پوهه او لوړتيا نه زغمل، او د ځان دپاره خنډګڼل، د بېلتانه تور تبخی " تاوه" ترميان تېرېدل، په خوله کي څوژبي لرل، د خپلوانو په وينه ځاني مانۍ ودانول، د ښوونځيو او د هيواد دودانيو ورانول، مانوي ارزښتونه له بېخه کښل،له پوهي اوزدکړي کرکه کول، د عصري علومو يا دټولني په پر مختګ کي د ملا او مذهب درېدل يا درول، له کتابه لېري پاته کېدل..... او داسي ګڼ شمېر ناروغۍ راپه ګوته کوي چي زموږ د ټولني ژوند يې په غيږ کي نيولی او مرګونی کړی دی .

او له دې ناروغيو څخه يې د ټولنيز ژوند د ژغورني ږغ د شعر منځپانګه رغوي . اولس ته په خپلو ګرېوانونو کي د خپل وجدان دا ورېدو ږغ کوي. چي د ځان ځانۍ له ميخانې څخه هم دغه ږغ د ټولني دراايستلو توان لري، چي :

جام په لاس په ميخانه کي ناګهانه ږغ راوشو

(c) ketabton.com: The Digital Library


اې لـه ځانه ښخه ورکه لـه ګرېوانه ړغ راوشو

او یا دا هیله چې ښاغلي مجرم د قام د راتلونکي ژوند په اړه ځومره فکر جن او ورسره د زړه خواله ځرګندوي چې ټولني ته په کارده چې زدکړې او علم ته لاره ومومي، وايي :

دغه چي مورشي دغه مور به وي د قام مستقبل

نن چي کتاب د يوې پېغـــلي په لاسو کي وينم

د نن د آسیا دزړه د مورکۍ په درد خبردی چي زوی یې ځان ته د بل لپاره وژونکې لاره خپله کړې ده، آن چي ځان هم ......چي :

پښتنه مور کور کي نفلونه کوي غـړي کوي

زوی یې د بل لپاره جنګ کوي او مړي کوي

شخصاً یا د شاعر په ځاني اړه د نور څه ویلو توان نه لرم او یوازي پردې خبره بسنه کوم چي ښاغلی مجرم د خوشال بابا د دې شعر بشپړ انځور دی، چي :

که فلك دي د زمري په خوله کي ورکا

د زمري په خوله کي مه پوېږده همت

(c) ketabton.com: The Digital Library


له لوستونکو څخه د ښاغلي مجرم چي ماپه خوله هيڅ کله ورته مجرم نه دي ويلي خو په ليك کي مودا مجبوري راتر غاړي وه . د شعر د لوست هيله کوم . چي تاسو يې شعر ولولى . او په شعر کي يې د خپلي ټولني د انځور تر کتلو او څارنه وروسته د هغوګڼ شمېر ناروغيو ناوړو دودونو مظالمو او بې عدالتيو په مخ نيوي کي په مېړانه برخه ولرى . چي دلوړ همته او شعور لرونکي شاعر عبدالقادر مجرم غوندي ګڼ شمېر خواخوږو شاعرانو راپه ګوته کړي او څرګندي کړي دي . تر ټولو شعرونو لوستلو له مخه د دې شعرونو په لوست د کتاب د لوستلو پيل وکړى، چي :

بېې پامـه سترګي رانـه واووښتې پرلور د ښکلو

مــاه ـم دشيخ غــوندي تقـوا کولـه نه مي وکړه

لاس مي اوچت کړى ستا دپاره لاس مي ونيوى چـا

پــرون مـــي ستاپه حق کي دعا کوله نه مي وکړه

پـر دې مـــي وژني که مي بل جرم مجرم کړى دى .

ستـا پـه رضـا بـه مي رضا کـولــه نه مي وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ټول پښتون د عصري علومو چي په خپله ژبه کي يې وکړلای شي. او له نورو ژبو څخه ډېره شتمني خپلي ژبي ته راوړي، په هيله .

## محمد نعيم آزاد

## غورځنګ دوتر، کوټه پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

یــو زما زړګی دی چــي مـرګ نـه مني

بل کوم داسي شی دی چي **مرګ** نه مني

یـا خــو جنــازې پـه ستـــرګو نه وینــي

یا خو لــېونــی دی چــي مرګ نه منــي

پس لــه مـــرګه زمـا پــه قبــر ولیکی

دا هغـه سړی دی چي مـرګ نـه منـي

راشه اوس یې و ګــوره چي مړ مي کړ

څه رنګه مرګی دی چي مرګ نــه منــي

یو مجـــرم خـو نه دی چي یې نه مني

داسي ډېر ګډی دی چي مرګ نه مني

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

پـه درنو خلګـــو کي که سپکـه کېږي

دا فیصــلـه يې هم چابکــه کېږي

جُرم يې کړی دی خو ويې بخښنه

داسي کارو نه له هلکه کېږي

چي تول اختيار ور سره وي د کلي

ګيله به خود بيا له ملکه کېږي

په ښکُلېدو کي دي سکون وينمه

زړګی مي ګُلي تاته څکه کېږي

مجرمه څوك يې پلټنه وکړي

دښمني تل دلته له شکه کېږي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

اشناپه خپله مجبوري باندي اشناڅنګه کړي

داچي پـه نـه څـه مـروردی داپخلاڅنګه کړي

یومـزدوري کـوي اوکـورته یې وړي دواړه وینم

بل ورته ناست دی پردې سوچ کوي داغلاڅنګه کړي ؟

په دې ظالمه اوجابره زمانه کي غریب

ورته حیران یم دماښام ډوډۍ پیداڅنګه کړي ؟

زه خـویـوزه یم څـم خـادربـه پراُوړو واچـوم

دی بـه داخـپل پاسته لاسونه اوکلاڅنګه کړي؟

چي پرکرسۍ دعدالت مجرمه ناست دی مجرم

مجرم سړی به نو مجرم سړی سزاڅنګه کړي؟

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

بیــابه یې نورهم کاروي ارمان خــو خپل ولیکي
شــاعــرکه داسي څولفـــظونـــه مـدلل ولیکي

دومره دي وکړي چي په شګو کي په خپلو ګوتو
نامه دي زما لکه مجنون که یې منل ولیکي

زما شپونکی خیال چي ستومانه شي نوکښېني ورته
کــروښی[1] را واخــلي پرهغـــه څــلي منــزل ولیکي

یو درد لري ښکاره کوي یې نه چي راز پاته شي
څوك چي له خپل نامه سره سره یوبل ولیکي

ضــرور بــه ستــا د خــولو ذکــر پکښــي وي مــزدوره
مجــرم کــه هــرڅــومره شعـــرونه پر اُوربل ولیکي

✷✷✷✷

[1] هغه کانی چي رنګ اچوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


خــود وه خــورہ چـي تـا و مـا او مـا تـا تـه خــورہ

دا خـــورہ ګــورہ وه د چـا او چـا و چـا تـه خـورہ

مائيګـر تاليدى مابنام شو ترورمۍ جورہ شوه

شـپه ښه پخه شوه بيا يې ماتـه وسبا ته خـورہ

پـه زلـزله کـي زلـزله وه ښــوريدلـه مځکــه

وراني پـه دې شوه چي جتکه يې هري خوا ته خورہ

يــو چـا وئيل ورشـه و قـام تـه دغـه زيرى ورکـرہ

خـوب مـي ليدلـى دى دجنګ لښکرو ما ته خـورہ

نن زه د هغـو ورځـو شـپو له تا نـه غـوارم حساب

کـه دي پـه ياد وي ما ډوډۍ د خونـو شا تـه خـورہ

تــا سمــندر د بـدبخــتۍ مجـــرمــه ولـيدلـى

هــره خـپه يې وه پښــتون او پښــتونخـوا تـه خـورہ

(c) ketabton.com: The Digital Library


انځـور يې داسي راته جوړکـړه انځـور ګره ياره
لکـــه لــه ما چـــي وي پــه نــه څــه مــروره ياره

اوس مي لاهم بې صـبره بولي صبرڅه رنګـه وي
يـو پـوره کال دی لــه اخـــتره ، تــر اخـــتره ياره

له ناوسـۍ خو( شـــهو خور او مور ده) اوري که نه
دا يـــو مـــتل دی مـــتل واوره زوروره ياره

چـي زر بــه قـام د ازادۍ د لمر شغلـي ووينـي
دغــه خـبري سـتا د خـولې دي خُـله وره ياره

خـپله لـرم لــه دي شــرمېږم ځکه چپ پاتې شم
ژوندون په خدای درسره ګران دی ړيره وره ياره

ته چي سرې سرې مجرم بولې دا راز دی که څه ؟
يې خــو پر ســد لــيونی نه ښــکاري قادره ياره

---

مينه مروره شوه

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

سوال د توپان وکړم چي راشي بد کرداره یو سي

توپان چي راشي هغه پرېږدي ما له واره یو سي

طبيبه غواړم داسي څه چي دغه دواړه کوي

چي هم پر هاروي هم دردونه له پرهاره یو سي

په ژوند مي نه کوي چي هر څه مي تر جار کړو هغه

په مرګ مي خدای خبر چي کاڼي له مزاره یو سي

ناکسه خيال به مي نو خود په لوري ځي د ازل

چي غل وراشي له یو چا څخه تياره یو سي

ښه ورته ګورم ښه يې وينم بيا هم نه يم مجرم

د خولې ګوله يوڅوك د کلي له يو خواره یوسي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر قدمونو مي يو ډېر ښکلی تصوير لاندي کړی

د وخت ګېڅو مي ګوره سترګي که ضمير لاندي کړی

د وخت شاهين وينم چي وَس کوي وزري وهي

ځان رسوي زانبي وهي ، که يې ځنځير لاندي کړی

څه دی چي غل يم له هغو څخه مي غلا کړې ده

چا چي ښېخوا له نورو خلکو نه جا ګير لاندي کړی

دغه يو زه يم چا ته ور سم او پر چا وژاړم

د ديار هر تېری لويه خدايه وير لاندي کړی

د ناکامۍ سندري وايم ورته ژاړم مجرم

دبېلتانه تر بالښته مي ستا تحرير لاندي کړی

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مزدور ته

په ډېر همت راوزم

په صداقت راوزم

دجنګ په نیت راوزم

کومه جنګ له هغو خلګو سره

چي ستا د زوی له خو لې ګوله وباسي

او ستا د زوی له لاسه وباسي کتاب او قلم

مزدوري و ګرځوي ستا مزدوره

ستا د تنها کو لاسو خیال نه ساتي

دا ستا د سترېي  وجود خیال نه ساتي

زه به جنګ ستا د پاره ښنګه وکړم؟

چي ته خپل حق د چا نه نه غواړې

خاموش پاته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

يو څو خبري نن د خپل زړه پر دېوال ليکمه

يـو څوك راځي ورته په مينــه استقــبال ليکمه

زمورږ په ښار کې اوس د خدای بندګان شته اوکه نه ؟

دښار پر ور باندي و هر چا ته دا سوال ليکمه

چي د پخوا تېرې و عدې يې ور په ياد کړم ځکه

لــفظونه دوه پـر بخمـلـي نـرم دسمـال ليکمه

وايي هېرېږي ستړي ورځي ستړې شپې له سرې

چي هېر مي نه شي ځکه هر څه د تېر کال ليـکمه

مجـرمه داد ماته همېش خلګ پـردې راکوي

زه که هر څه ليکم نو هغه په کمال ليـکمه

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

نـــه د روپـــو ، نــه د انــې ســړی یــم
زه د یــو مستـــي میـــخــانــې ســړی یـــم

نـوم بـه مـي نـه واورې پـه خـــولــه کـــي د چــا
زه د دې ګـــونــګـي زمـانــې ســړی یـــــم

کلـــه پـــر ځـــان بـانــدي نـاول لیکمــه
کلـــه دنیـــمـــي افسانـــې ســــړی یـــم

دا بـــه لـــه نـــورو نــه پـــو ښتـــنه کـــوو
چـــي زه د کـــو مــي پــیمانـــې سـړی یـــم

لـــه مــا تـــپوس د ازادۍ مــــه کـــوه
یــمـه مــجـــرم د قـــید خــانــې ســړی یـــم

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې مه خو شحاله کېږه چي پر ما يې لاس نيولي

دي د وخت مجبوره خلګ چي پر تا يې لاس نيولي

شا و خوا مه سره ګوره دا متل دی پخوا شوی

کاڼي هغه خلګ ولي چي تر شا يې لاس نيولي

چا چي دوی ته قدر ورکړی د هغوی کړه په شا ده

مېلمانه چي کور بانه شو پر يو چا يې لاس نيولي

چي پروند زما د فکر مخالف و تر هر چا ډېر

نن هغه سرې ته ګوره زما پر خوا يې لاس نيولي

دي ده ټول کړي جرمونه موږ په سترګو باندي وينو

دا مجرم چي آزاد ګرزي پر يو چا يې لاس نيولي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

در ځه چي غرو رغو ته لاړ شو غاټول ګل کړی دی
دګلو ضد خزان يې وړي اوس يې لابل کړی دی

دا يو متل دی د غنم له رويه ځوز اُوبه شي
سوال دسپرلي زما په خيال خدای ته بلبل کړی دی

اوس چي په زلفو کي ګلونه هره پېغله ټومبي
په ګلستان کي کار عجب غوندي اتل کړی دی

چي خپله سيمه تر کشمير هم زرغونه کړمه زه
ما دغه کار تر خپله وسه مسلسل کړی دی

چي هسي مري مجرمه مړ شه د حلوا پر دوکان
په دې خو پوهه يې پخوانيو دا متل کړی دی

✷✷✷✷

مينه مروره شوه — عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

دابېګانه چي د خپل کلي په کوڅو کي وينم

داسي را ښکاري لکه اُور چي په اُوبو کي وينم

مانا يې دا ده چي منګي به يو له بله و هي

هغه کښتۍ د ( نوح توپان ) تل په خوبو کي وينم

دغه چي مور شي دغه مور به وي دقام مستقبل

نن چي کتاب د يوې پېغلي په لاسو کي وينم

خدای خبر حق به و حقدارو ته ور ورسوي

همېش بدلون د ثالِثانو په لفظو کي وينم

مجرم په دې يمه مجرم نور مي نو څه کړي دي

ګناه مي دا ده خزانې په خرابو کي وينم

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

د هجرت په سترګه خله راته ګورې

د نفرت په سترګه خله راته ګورې

ته انسان يې دومره نه درسره ښايي

د قدرت په سترګه خله راته ګورې

فاني شوې لاتر اوسه دنيا نه ده

د قيامت په سترګه خله راته ګورې

غريبي خو دومره عېب نه ده جانانه

د غربت په سترګه خله راته ګورې

جرم شوی دی له هر چانه مجبور شوم

د حيرت په سترګه خله راته ګورې

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

اوس ك په بده كه په ښه را ګوري

په تماشه مي خوا ته ښه را ګوري

خلګ مې ځكه تماشې ته ولاړ

د وخت پالګر چي پال پر پښه را ګوري

په دې وچ دښت كي زرغونه څنګه يم ؟

دوى به مي خود هره ريښه را ګوري

د دوى و مخ ته دى كنډول پيمانه

بنګيان به خود نشه نشه را ګوري

هم خياله نه لري په دغه ښار كي

مجرم چي ځي هره كوښه را ګوري

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

لېونی نه وم چي مي هسي پلولې لاري

در تلم تر تا پوري په دې مي خپلولې لاري

زما ګناه نه وه پخپله وه د خلګو ګناه

د هغو مله شو چا چي روغي ورانولې لاري

هغه چي دوی وېئل درنې دي پر هغو لاړمه

حقيقت نه لري په دې خو مي کتلې لاري

تګ او راتګ ور باندي نه  وو ورا نېدلې اخير

له دغه ډاره مي همېش جارو کولې لاري

په نورو نه يمه خبر ځان را معلوم دی مجرم

چي دا مي کار وؤ ، ما په خپله جوړولې لاري

مينه مروره شوه

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

داسپین کړی پټ ، دګتي وخت دی تورلباس واچوی
زموږ امیر ملا وئ‌لي دي چي لاس واچوی

چي داسي نه وي په دې توره شپه کي بل کړي خراغ
و یو زور غوندي کډي ته دا اساس واچوی

ډېره په خوند يې دشعورکډه بارکړې پراُوښ
زور نظر و دې تصویرته دعکاس واچوی

په توره نه جنګ په تسبودرسپارم داخو وکړی
راشئ شېخانو د شیطان زړه ته وسواس واچوی

اوس چي سزا در کوي دا مجرمه ووئ‌ل تا
د غه پرآس باندي چي سپور دی سپور تر آس واچوی

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

جام پــه لاس پـــه میخـــانه کي نـــاګهانه ږغ راوشــو

اي لــه ځـــانه ځخه ورکــه لـــه ګــریوانـــه ږغ راوشـو

زه له ستړي ژونده تلمه د نصیب له شا ناري شوي

ته روان يې ځي پر لکومه بل ستـــومانه ږغ راوشـو

په دي سوچ کي ورته ورك وم چي يوازي يې ځوك نشته

دبدلـــون پــه لورخـــونه ځــي لــه کاروانه ږغ راوشــو

لـــه ژړا ځخه مي خلاص کــړي پــه خنداکــي راتــه وايــه

نــورلــه مــاځخه ځه غــوارې لــه اسمانــه ږغ راوشـــو

دبـــاطـن د مجــرم ځــاى راســره نشته کــه ځـــه دی هم

دظاهـــره مجـــرم ځـــاى يم لـــه زنــدانه ږغ راوشــو

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

په وس مې نه ده ، چې دا دومره بد له بناره باسم
يم يو سړی ، ورسره خامخا به لاره باسم

خدای خو دي نه کوي که چېري بل چار پېره شواور
درځمه تا له سرو لمبو او له انګاره باسم

چې دی کمې محسوسوي دلته هم شپه وي سهار
ځکه خويويو په سوکه له دې درباره باسم

غوارم يوځو داسې کسان چې بنې اُورې ولري
نيت مې دی کړی جنازه دې له د ياره باسم

نه دلته سته نه له مجرم سره تراوسه شوي
ځان دانصاف د اُميدو له انتظاره باسم

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

نن مي په خوله کي ما تېدل لفظونه

سلامت نه ترې  را وتل لفظونه

زه به کچکول لا هم په غاړه يو سم

که په کچکول را ټولېدل لفظونه

موږ خود نورو زده کولې ژبې

د خپلې ژبې هېرېدل لفظونه

ځکه چپ ناست وم څه مي نه ووئيل

هلته په کار وو ، کارېدل لفظونه

ته يې احسان کوې پر چا مجرمه ؟

څه دي چي تا سره پېيل لفظونه؟

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

په توره نه ، راشئ خبر کړو په قلم ماشومان
چي د دنيا غوندي ژوند وکړي زموږ هم ماشومان

که مي سوالګر بولي سوالګر يمه دا سوال کومه
د درس د پاره کور پر کور را ټو لوم ماشومان

چي په نړۍ کي يې ثاني تر پايه نه شي پيدا
په پښتانه کور کي به دا رنګه روزم ماشومان

تر ډيوالو د ښو ونځيو او کورو لانديي شو
څه يې راباندي دي چي وژني مو هردم ماشومان

زه خپل ضمير مجرم د دې ذمه وار وګڼلم
دجهالت له ناروغۍ څخه ساتم ماشوم

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

تا نه کوي سوال غزل غزل زما
څنګه ده مثال غزل غزل زما

تکه توره شپه باندي راغلې ده
خدای دی کړي مشال غزل غزل زما

شعر د پښتو زه ، په دغه نیت لیکم
وائي به دَجال غزل غزل زما

وي خو به خدمت د مورنۍ ژبي
نه دي سي اقوال غزل غزل زما

هره ورځ يې زه مجرم هم نه لیکم
کله مي شي خیال غزل غزل زما

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

داسي ځوك شته ؟ چي په ژوند راشي راله مينه راکړي

چي زه د مرګ شم بيا يې څو کوم که وينه راکړي

په انتظار يمه دنيا ده پر اُميد ولاړه

يو ورځ به راشي بې وفا خولګۍ به سپينه راکړي

چي مي زړګی ورسره ايښی وو له وخته څخه

هغه سړی دي نن تېوته له خپله پرينه راکړي

بيا به د تل د پاره پرېږدمه نشه دبنګو

يو څو لونګ که دا له خپله لونګينه راکړي

چي يې د ميني په الزام باندي مجرم کړمه زه

سزا دي هم پخپله هغه ګلورينه راکړي

✷✷✷✷

مينه مروره شوه

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

دا خو عادت دی ستاله وخته وخته
څوك خېژوي څوك كوزوي له تخته

ور ته حېران يمه پوهېږمه نه
دا زندګي شوه دومره ولې سخته

ډېر له دې ورانو كوڅو ستړی شومه
ما پر ودانه كوڅه پېښ كړه بخته

كېدای شي څوك به مې زيارت ته راشي
يو جګ چنار مې كړه و سر ته شنخته

زه بس همېش په دې امېد يم مجرم
يو وخت به دا نهال شي لويه درخته

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

داڅه دراوی نه وه چي ته به وېرېدلې اشنا

په دروازه کي خو به لړ څه درېدلې اشنا

وائي د دغه مانا دا ده ، چي بېلتون به راشي

خوب مي ليدلی ته په اور راګډ ېدلې اشنا

ته خو د باز غوندي وزر لرې او ځې په لوړه

ته په دې ورانو کوڅو کله تېرېدلې اشنا

پروند مي يېلي پښې يتم د کلي وليدلی

ځکه مي اوښکي بې اختياره څڅېدلې اشنا

مجرم به تل و خدای ته کښېنمه زاری به کوم

که په دعا ته له بلا نه خلاصېدلې اشنا

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

پښتنه مور کور کي نفلونه کوي غږي کوي
زوی یې دبل د پاره جنګ کوي او مړي کوي

دا ژبه ور ریبار نن بیا راته ګونګی ولي شو
د یار له خوا راته خبري اړي اړي کوي

د پرېدو خلګو څه ګِله او فریاد وکړم چاته
راسره ضِد قسم په خدای د مور زوکړي کوي

ما چي کرلي وو ، د علم کرونده کي پرون
دا مي یقین دی چي ګلان به هغه زړي کوي

دا په دې خپلو سترګو وینم په وطن کي مجرم
وسا یې خوري او مزدوري همېشه سترې کوي

✷✷✷✷

مینه مروره شوه

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

زه لکه شمع يو دبل په لاس بلېږم همېش

نور لکه موم پر خپل وجود باندي ويلېږم همېش

د ځان پر بخت باندي مي هيڅ کله ژړلي نه دي

د خپل بد بخته قام پر بخت باندي ژړېږم همېش

نه پرې پوهېږم ولي نه سپړې سمسور ګلونه

زه د باران غوندي پرخپل غولي اورېږم همېش

ښه شو چي ستا په درکي وکړې اشرګرو اتڼ

چي درمعلوم شي زه په دې ګرځ کي اُوسېږم همېش

مجرم د نورو مجرم نه يم د خپل ځان مجرم يم

ځکه د خپل لاس په جوړکړي دار ځړېږم همېش

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

د ځان مې نۀ کړی خپل سنګر لښکر لرم اوکه نه

اوس به پر دې فکر کوم چې سر لرم اوکه نه

سم دې پر ښنګک در سره ځم تر تا خو پاته نه یم

په دې دې کار څه دی چې زه وزر لرم اوکه نه

نه مې دښمن دی په وهلی نه لیدلی دی چا

چې راسره دی اوس نو زه خنجر لرم اوکه نه

چې هنر مند شم په هنر اسمان ته وخېژمه

په چا مې نه کړی زده هنر ، هنر لرم اوکه نه

مجرم درنیسم په مجرم ، مجرم ، مجرم دی بې کار

په دې دې څه دې چې زه خپل عسکر لرم اوکه نه

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس نه مځکه ده پرمځکه نه اسمان ځيني اوچت دی
اوس خوهره ورځ محشردی اوس خوهره ورځ قيامت دی

په دوزخ باندي يې وسو ښکلي ښکلي اندامونه
چي په تورو تلو ورشي هغه څه فردوس جنت دی

دجمال،جمال تابع شو په دې نه پوهېږم خلګو
چي ليکلي ازلي دي که چا کړی شرارت دی

د لفظونوجال مي جوړکړ ستا د پاره ورته ناست وم
نور، نو ښه دی اوکه بد دی زما دومره مهارت دی

په يوه ټکي به تا کړي له مجرم څخه محرومه
هلته هر څه کتل کيږي هغه داسي عدالت دی

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

پوهيږم نه ، غمونه ورځ په ورځ ډېرېږي ولي
خوشالي ځي کمبلي نغاړي کډه کېږي ولي

دارو که نه لرې طبيبه راته ووايه دا
د نورو خوږ زما پر وجود باندي تېرېږي ولي

ښه مي ساتلی نه ، که څه پر دې به غور کوم
زما په روان کاروان کي اوښ وشا ته کېږي ولي

متل خو شوی (پر اوګره دی ) خو زه جنګ يادوم
پښتانه وائي سرېده به دا تودېږي ولي

چي رڼا شته او هم يې پېژني بياغله دي ضرور
مجرمه دوی په تاريکه باندي نازېږي ولي

✷✷✷✷

مينه مروره شوه

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

دوی چي مي ريښي ريښي ګريوان په اورکي وسېځي

نه دي په خبرچي خپل مکان په اورکي وسېځي

دا پوښتنه هر وخت زما ضمير کوي له ما څخه

دا هم مينه بولي چي جانان په اور کي وسېځي

يا ته يې ماران شي هغه زما چي مخاليفه وي

خپل غمخواره خلګ مي ارمان په اور کي وسېځي

سم دستي محشرکړي خو بس دومره وار يې نه کېږي

ما پر دې دنيا لاخپل ايمان په اور کي وسېځي

دوی مي مجرم بولی وائي ولي ته مدام وائې

هغه لېوني دي چي خپل ځان په اور کي وسېځي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

خاکه کړم جوړه په خاکه کي چاته درس ورکوم
منم ده وکه ده په ده وکه کي چاته درس ورکوم

قدرپه دې ما ناخوانده غوندي سړي کړی پیدا
بر ده بېرکه[۲] ، په بر بېرکه کي چاته درس ورکوم

پیر ته مي ووئیل حلقه څه ده پیر دا ووئیل
د يږجذبه ده په جذبه کي چاته درس ورکوم

له هغونه یم چي پر بار کړه یې زوی کړم ملا
دی مي عادت سوکه سوکه کي چا ته درس ورکوم

چي هر شاګرد مي د بنې نه وي وجه دا ده مجرم
زه په بېوزله علاقه کي چاته درس ورکوم

---

2 خالي میدان

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

ستا به  دا خيال وي زه يې هېر شوم چي زه لاړم اشنا

زه چي دي هروخت يادوم در پسي ژاړم اشنا

زما به ډېره مجبوري وي زه چي داسي کوم

مځکه چي سکنېم زما له خوا چي يې در نغاړم اشنا

اب حيات مي ضرورت دی پسي ګرځمه تل

د ناوسیۀ عمر تمام دی خضر غواړم اشنا

دا د حالاتو مجبوري ده پرې مجبوره يې کړم

نن چي دا تور په سپين لګي سپين په تورکي ژباړم اشنا

مجرم ګودر ته يم را غلی د توکرو په نيت

که مات بنګړی وي ، که منګی وي ، زه يې غواړم اشنا

✷✷✷✷

مينه مروره شوه

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

زه يې سور په وينو خوښ يم خامخا کاڼي راولي
ګوره څه ورباندي و شو خېرخوا کاڼي راولي

بد دي چا ورسره کړي انتقام له چانه اخلي ؟
چي دښمن ظالم پر خوا د پښتونخوا کاڼي راولي

تر نظر د شيطان ځلی خپل نصيب کړمه د خپلو
نيت د فرضو راته وکړي راشي بيا کاڼي راولي

ما و بل ته حواله کړه ما جفا ورسره وکړه
د وطن هره دره دي زما پخوا کاڼي راولي

اوس نو څنګه ثبوت ورکړم چي مظلوم يم مجرم نه يم
څوك ترمخ راته و لاړدي څوك له شا کاڼي راولي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

اوس يې اند ښنې په دغه ځه کي دي
زما يې تصويران په ټپاره[3] کي دي

يو ارمان خونه دی چي په خوله وايم
ډېر مي لا په ذهن او په زړه کي دي

ځوك چي تر منزله رسېدل غواړي
هغو ته لا پاته ډېري مځكي دي

بد ګمان به ځه ور باندي وكړمه
دلته خو چي ښكاري ملايكي دي

سم دستي مجرم راسره نشته ځه
هر ځه مي د خيال په اواره كي دي

[3] دتيپونو په منځ كي دكمس جېب

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

راځي په سېل زما غولي ته دوی ګوري ږلی
دلته له ډېره وخته اوري تکي توري ږلی

هره کوڅه په خپلو هسکو دېوالو ډکه شوه
ټول دېوالونه يې راړنګ کړو پله پوري ږلی

چي څه وو تللي هغه بېرته راتلی نشي ورته
په کور کي نه پرېږدي چي وځي دلي دوري ږلی

اوس خو لالمر په ووره نه وي موږ دننه يو ټول
دا مي باور شي چي بيا راغله او بيا اوري ږلی

دومره يې زه عبدالقادرمجرم کمزوری کړمه
تر نظر زما راځي په شپه د اسمان ستوري ږلی

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

دوخت په ښار کي که ما پلوري او خرڅېږمه زه

په یو قیمت یم نه ټیټېږم نه لوړېږمه زه

لکه زړه ونه ریشې مي خاورو ، وخوړلې

باد چي له هره لورې راشي په نړېږمه زه

شي دي راپورته هدیرې دي کړي ناري د مغل

ورسره ضد کوم په توره شپه تېرېږمه زه

د مځکي سر په ستمګرو ډك شو ټپکه نشته

کډه چي یو ځای بل ځای اړوم ، بارېږمه زه

ستا د منت تر مړوندو د خاورو ښه دی بالښت

د خیال ځانګو لرم مجرم ږېکي ویدېږمه زه

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

پکار خو دا ده چي له تانه مرور شي سړی
چي داسي وکړي ، نشته څوك چا ته به ورشي سړی ؟

و ژورتیا ته د ساده توري حېران درېږي
شي پکي ورك چي د متل په تل خبر شي سړی

یوه زړه کاکړۍ نغاړم په غزل کي دلته
هغه هم دا چي تر ما تر سړي تا له درشي سړی

له هغه چا څه توقع بېکار ده څومره قدر
د بل په زور چي معتبر شي زورور شي سړی

خوار له خوارۍ مجرمه نه مري خو اوس پېښنه دا ده
سړي خواره شو باداران د چا نوکر شي سړی

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

چي څو قدمه واخلم سمه لاړ تر سترګو راشي
اوړي مي په ښنوکي تم شم مار تر سترګو راشي

حېران يم ورته تم شمه چي چا دي راوستلي
په ښار کي د مئينو چي اغيار تر سترګو راشي

پيدا يې کړم خوشحاله يم چي لوی يې کړم ښتون
بيا وژاړم نجيب غوندي په دار تر سترګو راشي

زړه خو راته وائي چي هر څه ورکړه خو نشته
کله چي غريب مجبور او خوار تر سترګو راشي

ښه که خپل کردار کړمه ، مجرمه خو هم دلته
په بدو کردارو کي خپل کردار تر سترګو راشي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

تـــول مـــي راوړی دی هستي تـلمه
له دروغژن سـره راستي تلمه

يـــو تجـــربه کـــوم د وخت د پـــاره
ستـا لـــه بدي ســره نېـــکي تلمه

دومره مي ګوره حق جوړېږي که نه
زه چي هستي ســره نېستي تلمـه

قصـور به وګـورو د دې دی کـه زما
نن لـه مستي سره سُـستي تلمه

بيـا بـه و بل تـه مجـــرم وايم مجرم
اول بــــه خپلـــــه بنـدګــــي تلمه

✷✷✷✷

☼

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم راته وږغیږي هم راته اشنا وخاندي

چې سترګي نه وراړوم پر ما حیا وخاندي

یو زما د پاره زموږ د کلي لا هغه دستور دی

چي سره مخ شو زه پر دوی او دوی پر ما و خاندي

قسم په خدای دی چي تر سترګو مي بخرکي غورځي

څوك چي پر خوار او یا د خوار پر خیر خوا و خاندي

تا چي به زما پر ناوسي خندول هغه خلګ

تر هغه نه کښېنم تر څو چي دوی پر تا وخاندي

حالاتو هسي زه مجرم دې ته جوړ کړی یمه

بیا یې فرق څه دی پر ما نن وي که سبا وخاندي

****

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

خوښه يې نه ده چي شتمن لره چنده ټولوي
له مجبورۍ څخه دښمن لره چنده ټولوي

ما چي په ظلم پاچاهي ورباندي کړې وه خو
نن مي هغه خلک کفن لره چنده ټولوي

دا د چا خوښه ده چي کله دي څوك داسي وکړي
چي پر ښار ګرځي خپل ميئن لره چنده ټولوي

دا چي و هر سړي ته نه دري په پته ګرځي
داسي ښکاريږي چي پتمن لره چنده ټولوي

دلته بس هغه تر نظر د ټولو بد ښکاريږي
څوك چي بېوزلو د وطن لره چنده ټولوي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

کعبه يې نه ګڼي هر څوك داسي زړګی ورانوي
لکه ماشوم چي خپل جوړکړی کورکی ورانوي

ستړیا يې هېره ده که څه په ستړی شوی چي وو
ورته ولاړ دی خپل کورګی هغه سړی ورانوي

زما تجربه که څه بې ځایه ده نو خپله وکړه
ماشومان هر کله د مور او پلار ګرانی ورانوي

داسي اسانه ده زما قاتل ته زما وژنه
لکه چي پېغله د غُصې نه خپل منګی ورانوي

خپلوانو ونړاوۀ کلی زه خبر یم مجرم
بیا يې ناري کړې چي دا زمور کلی پردی ورانوي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

خیال دعشق په سفرسم کړم دارمان لمن کړم څیري

ځان یوسف تا ذلېخا کړم د خپل ځان لمن کړم څیري

چي شم ډېر له تیارو سترې اخیرځان ورته کاذب کړم

د سپېدوغوندي سهارشم د اسمان لمن کړم څیري

همېشه یې په طلب یم هغه خوښي سترګي غواړم

خپلي سترګي مي ده‌وکه کړي د انجان لمن کړم څیري

چي همېش کېده په شایم ځم هغه کوڅه پرېږدمه

د دې اصل سبب دا دی د ګفران لمن کړم څیري

ځان په دې جُرم مجرم کړم دا خطا راڅخه وشي

شم له خپله ژونده سترې د دوران لمن کړم څیري

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

د جابره خلکو لویه جبریستانه تمام نه شوې
په ژړا درېځکي ګرځم قبریستانه تمام نه شوې

زه یوه تږې مرغۍ وم ژوند مې ور کړلو له لاسه
ته د هجر د دښتونو تابستانه تمام نه شوې

چې روان شوم لا روان دی زما د ژوند سترې سفرلا
د تقدیر جوړکړې زما سترې جهانه تمام نه شوې

په امېد مزل کومه له مودو څخه روان یم
د یاغي درېندو کوره یاغیستانه تمام نه شوې

مجرم ټول عمر سفر درېځکي وکړ بیا لا هم ته
اې د ستونځو ستومانیو کوهستانه تمام نه شو

****

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله راشي تا او کله ماله ښاره وباسي
نشته داسي څوك چي دا بلا له ښاره وباسي

نور يې په وجود کي توان د صبر تمام شوی دی
اوس دي زما ضعيف وجود امسا له ښاره وباسي

ستا په خيال سودا د يوسف وه د ستمګر په ضد
دی هم خود غرضه ذليخا له ښاره وباسي

ګوره خدای له دوی شي که له موړه خوښ دی، دی متل
دوی دي د خوارانو خيرخوا له ښاره وباسي

بل به جرم نه کوي که خوښه شي د خلګو دا
تا خو دي مجرمه خامخا له ښاره وباسي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

چي توري[4] وکړي باچاهي داسي هنر جوړوي
کاغذ را اخلي پاڼي پاڼي ترې لښکر جوړوي

داسي خو ډېر وينم لګيادي چي خپل کور ورانوي
داسي څوك هم شته زموږ په قام کي چي ټبر جوړوي

دځان ځانۍ سودا پرې خرڅه کړي راټول کړي يوځو
ورته رغېږي هغه څوك چي دلته شر جوړوي

خير دی که نشته هېر يې هم نه دی دستور پخوانی
د مکتب پېغله پر کتاب باندي ګودر جوړوي

مجرمه خيال د ابادۍ يې لا په زړه کي نشته
پښتانه اوس لا هم و خپل ورور ته سنګر جوړوي

✷✷✷✷

---

[4] لفظونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

ته دا کوڅه په کوڅه نه ګرزې د کلي ولي
که ګرزې بيا دې بېګانه دلته راغلي ولي

په خپله نه پوهېږم ځکه حال له تاسي کوم
زه چي يې سر په غېږ کي نيسم هغه ځغلي ولي

چي موږ يې توره په لاس راوستو مېدان ته څه شو
هغه بد مرغه توريالي خلک دې غلي ولي

ښنګه شرمېږو نه ، ملګري يو د هغو خلګو
چي زموږ د قام ښه شمله ورځوانان ښاغلي ولي

مجرمه يې مجرم په دې ، نور دې نوڅه کړي دي
تا د هغو دا ځو خبري دي منلي ولي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

یــو د بــل پــه ژبــه نــه ســره پــوهېــږو
زه او خــپل پــه ژبــه نــه سره پــوهېــږو

د ازغــو لانجــه لا پــا تـــه ده تــر اُوســه
مــا او ګُل پــه ژبــه نــه ســره پــوهېــږو

چــي تــر اُوســه لا د لاري منځ کــي نــاست یــو
د مــنزل پــه ژبــه نــه ســره پــوهېــږو

دا چــي پــل تــر پلــه د دوارو نــه تــېرېــږي
زه او مــل پــه ژبــه نــه ســره پــوهېــږو

عــلامــه د بدبختــی مــجرمــه دا ده
دا چــي تــل پــه ژبــه نــه ســره پوهېــږو

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

منم په لوی لاس خوار او زار شو نوی نسل زما
ګناه زما وه سزا وار شو نوی نسل زما

هواروي يې ورانوي يې قطبه مه پرې لیکئ
که برابر مي پر مزار شو نوی نسل زما

اوس چي په سپکه ورته ګوري دغه واړه نړۍ
په هغو خلکو کي شمار شو نوی نسل زما

چي يې زما په وينو سره وؤ غبرګ لاسونه دچا
روان د هغه چا پر لار شو نوی نسل زما

زه دا خپل کور او وطن جوړ کړمه مجرمه په چا
د پرېدی سیمي پیره دار شو نوی نسل زما

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

اوس چي کېږي ناستي غونډي دي نورڅه دي
يو په بل باندي ملنډي دي نور څه دي

نيمه شپه را باندي ږغ که چي در ووځم
زما په وس خو منډي ترنډي دي نور څه دي

دا په سرو لاسو چي چغي وهي ژاړي
د پرون ناوکۍ کونډي دي نور څه دي

چي دښمن مو نه شرمېږي نه وېرېږي
دپټکي شملې مولنډي دي نور څه دي

يا دي لاره ورکه کړې د منزل ده
يا دي پښې مجرمه لنډي دي نور څه دي

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

نن په څه مجبور دی چي مجبورمهربان شوی دی

نه راتلو چي راغلی نو ضرور مهربان شوی دی

و یې کړه چي خوښ دي شوله ما پوښته مه کوه

داسي یو سړی پر خپله لور مهربان شوی دی

خپل یې د دوران بازار ته راوړی پکي ځوړند دی

ځکه ملاجان زما پر انځور مهربان شوی دی

اوس لا هم چي وشي عجیبه ومورږ ته ښکاري دا

څنګه یو تر بور پر بل تر بور مهربان شوی دی

دا دي څنګه چل مجرمه وکړ چي راځي درته

خپله خپل قصور مني مغرور مهربان شوی دی

مینه مروره شوه

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

دلته وېرېږي له سنګساره ، هم له داره خلګ

ځکه خو بد وړي لاتر اوسه له سينګاره خلګ

د کار سړي دانه دانه دي پهکي ورك شي له ما

بدبختي دا ده دلته ډېر دي بې معياره خلګ

چي دا د کار او ګزارې دی یا بې کاره سړی

موړ ته چي راشي موړ خو پېژنو له واره خلګ

نور دي نو خپله و غاصب ته سره یو موټی شي

موړ دي په خپل حق خبر کړي مزدوکاره خلګ

چي دوی ناره د مجرم پورته کړه مجرم دی مجرم

مجرم وئيل چي داپه ذهن دي بيماره خلګ

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

کوه یې، مه کوه اسره ، خبره

زه اموخته یم په زیږه خبره

ماته زما د ګریوان ښه پته ده

نه لوګی کیږي په وړه خبره

چې جنګ له تورو و خبرو ته شو

کوه یې ته که دي ده زده خبره

د ښو خبرو منځ کي و سړیه

یوه یوه کوي کږه خبره

که مي په حق کي وي مجرمه لاهم

وما ته بده ښکاري مړه خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

دا زخم د بل څه ګڼي دردونه نه ښکاريږي

ثبوت يې څنګه ورکړمه يادونه نه ښکاريږي

زه راغلم په دې تمه ځکه بېرته ځم روان يم

چي زه په نازېدم هغه سرونه نه ښکاريږي

حيران به مي ټول خلګ وکوټلي زړه ته ناست وؤ

دا ښه دي چي مو يو او بل ته زړونه نه ښکاريږي

له منځه به يې يوسو که يې ته ورکېدل غواړې

چي بيا يې په دې شا او خواکي پلونه نه ښکاريږي

چي تا ځيني جوړکړی دی مجرم دابه مني څوك

له وختِه يې لستوڼو کي لاسونه نه ښکاريږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

د تصور په ګلستان کي له تا ګل جوړوم
د ویرسندري درته وایم ځان بلبل جوړوم

نه یې په نرخ ورسره ځم نه یې له کلې وزم
اوس به یو یو کي خپلوم ځان ته محفل جوړوم

نن چي وځان ته د بل چا په نظر ګورمه زه
مقصد مي شته چي له خپل ځانه ښخه بل جوړوم

د ژوند له چارو ښخه نه یم خلاص خیالي دنیا ته
چي ښائسته خیالونه راوړم تري غزل جوړوم

دا وکالت به تا ته درکړم زه مجرم یم که نه
تش په خبرو دلته ناست یمه کابل جوړوم

مینه مروره شوه　　　　عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

در ځه چي کډه شو په بله لاړشو
یو ځه به لېري له دې خپله لاړشو

اوس راته دا د بابا توره وایي
مورې له دې خپله کلې څله لاړ شو؟

امکان د پاته دلته نه لرو مورې
ځو خو به ځو ګوره چي کله لاړ شو

لاړ به معلومه شي چي لاړو پر دې
ضروري نه ده تر منزله لاړ شو

مجرمه دومره مو له وسه نه ده
چي د دې خپل کور تر درشله لاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

په تا يې څه وکړو چي ته يې کړې په دار ويده شه
دوی شو په خپله ناکراره ته کرار ويده شه

دی لاله مړو وېرېدو ما ورته ووئيل دا
په تجربه زما ګناه کاره پر مزار ويده شه

دی به کوې که دي دی وکړو ځوانه بيا دي منم
پرځنګانه باندي سر کښېږده د اغيار ويده شه

مشکل راځي د ژوندن برخه ده پروا مه کوه
خدای به اسانه کړي هر څه راشه يوار ويده شه

ما يې په څنګ کي، يو بد خوب ليدی را وغورځېدم
مجرم، په غېږکي ټينګ کړم يار نه دی سهار ويده شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

دلته مشته نه شو کوچیان او له دامانه تېرشو
دا خو سپرلی په مورږه راغلی بې بارانه تېرشو

ګناه زما ده چې د بل درته مې ګورې بچې
کال بې خوارۍ او مزدورۍ پر ما ناځوانه تېرشو

نه ښتې بانې وې نه غاړې د لوګرو د خولې
دوبی د وخت په مشینانو کې ستومانه تېرشو

دا نه نظر دی نه تعویز زمورږ ناداني ده اشنا
د بېلتانه تور تبخی چې مو له میانه تېرشو

ته چې و غلو ته نه خپل سر او نه خپل زر ورکوې
مجرمه خدای خبر چې دومره به اسانه تېرشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

بیـا یـو چـل جوړ کـړی دی غتـانـو نن
خپل کاروان یې لوټ کړو په لټانو نن

بیا یې بېـګانه کوڅو کې ګرځول
څه بـاور بـه وکـړي په خـپلـوانو نن

بیـا یې د چـوکیـ مـوده پوره شوله
ځکـه پـر حـال ژاړي د خـوارانـو نن

زه پـه سپـیـنـه ږیره باندي ګډ شومه
ښه ښـکلی اتڼ وؤ د ځـوانـانـو نن

شکر دی مجرمه دومره خلګ شته
تا ورګډ وي په لیـکـوالانـو نن

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

پروا نشته کي مات دي شي تندی ،کردار پکاردی
په دې سترو حالاتو کي ژوندی کردارپکار دی

هرکور يې کورکی دی يو دبل ولاس ته ګوري
په دې خلګو کې اوس سړی سړی کردارپکار دی

تبليغ وه هر سړي ته ترخپل وسه پوري وکړه
خو يو ، و نه منونکي ته ګونکی کردارپکار دی

چي قدر د جونګړو محلواله خلګ وکړي
درځۍ چي لېوني شو لېونی کردارپکار دی

که غواړو چي وطن يواري بيا ګل و ګلزار شي
مجرمه بيانو موږ ته ګړندی کردارپکار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

ګوره چېته پېغله څنګه خپل لاسونه مروړي بيا
ورکه شوه له ځانه په تمبل لاسونه مروړي بيا

يو وارکه يې بخت ملګرتيا ونکړه نو ومنه
ياد يې لره هغه سړی تل لاسونه مروړي بيا

زه چي يې کوڅه کي هسي وليدم هغې وئيل
څه وربانـدي شوي دي پاګل لاسونه مروړي بيا

خوار شي د خوار بخته څومره سختي يې په برخه دي
هغه ښائسته ، نازك تر ګل لاسونه مروړي بيا

يو مجرم مي مه ګڼه چي يو به يم دا يو مجرم
داسي وخت راځي چي درته سل لاسونه مروړي بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library


يو وخت مي دا لويه ګناه کوله نه مي وکړه
له تا مي ستا د زړګي غلا کوله نه مي وکړه

هغه جمعه د وطن مړو ممبر وښورا وؤ
ما چي قصه د کربلا کوله نه مي وکړه

بې پامه سترګي رانه واوښتې په لور د ښکلو
ما هم د شېخ غوندي تقوا کوله نه مي وکړه

لاس مي اوچت کړو ستا د پاره لاس مي ونيوی چا
پرون مي ستا په حق کي دعا کوله نه مي وکړه

پر دې مي وژني که مي بل جرم مجرم کړی دی
ستا په رضا به مي رضا کوله نه مي وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

د چا دېوال چي دی د کور په دېوال پوري زما
ولي په بد نظر دي لوري ته را ګوري زما

د تيارو **خلګ** په روښان مستقبل نه وي خبر
**ځکه** خو نه دي ملامت په ما کليوري زما

زما جونګړه يې په دغه تور را ورانه کړله
چي ولي اوسې د **محل** په ساړه سيوري زما

**خلګ** په يقين وائي د دې تر پښوجنت لاندي دی
ماته دي شك کړ را پيدا ادکي موري زما

مجرمه زه خو شاعري د قام د پاره کوم
سبا به راولي ېې کار د غزل توري زما

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

هم دا احسان به دي ټول عمر يادوم کـه راځـي

دې ته دي غواړمه هرڅه درجاروم کـه راځـي

که سپينه ورځ وي نور د دې په مځنا څه پوهېږي

زه بـه پـه لپولپو خـاوري بـادوم کـه راځـي

نامه يې ستا ،ته په نېك نام شو زما بدلون دی بېکار

خلګ پـرمـا دي خلګ زه در پـاڅـوم کـه راځـي

نيت دراتلو وکـړه راځـه وارخطا کـېږي بـه نـه

دا نـاهـــواري لاري زه هـــواروم کـه راځـي

که په ما کلی باروې ودې ته مات يم مجرم

يو مي په وس دی دا يو زه در باروم کـه راځـي

مينه مروره شوه

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

اوس يې راتله دي بې مځنا سترګي ګرځولا ندي کړې
ښه دى چي ځ شي را اشنا سترګي ګرځولاندي کړې

حال به مي څه وي چي په درکي مي دوړېږي خاوري
چي لېري لېري د دنيا سترګي ګرځولاندي کړې

زما د غولي په اتڼ شين سترګئ اوس شو حيران
چي په نړۍ کي د هر چا سترګي ګرځولاندي کړې

دتيارو خلګ خود زورونه وتيارو ته وهي
چي باندي نه ويني رڼا سترګي ګرځولاندي کړې

مجرمه اوس چي ځان سنګار کړم څوك به وويني ما
دلرې برې پښتونحوا سترګي ګرځولاندي کړې

مينه مروره شوه

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

دنصیب کرښي که  په لاس که په تندي کي وینې
پالګره یاره ! زما لپاره خوخواري کي وینې

یو څه خو شته چي بادار سوال له یو غلامه کوي
خوب چي دراشي کله کله آزادي کي وینې

لابه له ځانه سره ګونبړي  لابه کاني ولي
دا دوه خویونه به هرځای په لېوني کي وینې

په سپین وېښته باندي مي مه کړه چي سپین شووېښته
پام مي پر نور وجود کوه که کمزوري کي وینې

بیا خو مجرم یم  باید خلاص مي نه کړې راکه سزا
زما زندګي که د بنده په بندګي کي وینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

چي کاڼي زما له سره اخلي ګرندی بولي ځان

دا خو يو نه دی دلته ،هر سړی ، سړی بولي ځان

دلته بس هر سړي د خپل سر دی قسم خوړلی

چي وار د قام د خدمت راشي نوپرېدی بولي ځان

پښتنه مور که ده  هر چاوي سکنۍ دې ګنړي

په دې غلط دی هغه څوك چي مېړنی بولي ځان

چي نه په ښه اونه په بده ورځ پکارشي د چا

ژوندی خونه دی زماپه خيال هسي ژوندی بولي ځان

زه خوله وخته ورته وايم هسي دوی نه مني

چي مجرم نه دی لېونی دی لېونی بولي ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

نه په مر هم نه مي په دم استفاده کړې ده
ماپه غمونو کي له زغم استفاده کړې ده

زما د ژوندون د تېرېدو ګرانی د قام دی او بل
ما د خوشحال له شعره هم استفاده کړې ده

په سترګو وينو خو په ځان يې اخته کړي يوموږ
له ترقۍ نه نور عالم استفاده کړې ده

دا خو ډېر بدکوي چي شعر او شاعر دواړه غندي
له شاعرۍ نه لوی او کم استفاده کړې ده

يو چا وئيل مجرمه توره مي زنګو لاندي کړه
ما وئيل دابنه شو قلم استفاده کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

هر څومره ملګري چي په يون کي وي
رسي تر منزله که ترون کي وي

ست راته د سر د **لګېدو** کوي
خواند به په مړوند که په ځنګون کي وي

کار به پس له نن **ښخه** پر دې کوؤ
دلته به **څو** نه سترې کېدون کي وي

نه غوارم نور نه غوارم که داسي وي
رايې کړه ژوندون خو چي سکون کي وي

ګومه ورځ که نه وؤ زه مجرم يمه
ستا ذکربه زما په هرمضمون کي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

دا چي وروړ له وروره ځغلي پېښنه څه ده
خپل چي خپل په کاڼو ولي پېښنه څه ده

تر سهاره چي وار نه کوي روان دي
ځي بارېږي له خپل کلي پېښنه څه ده

زه پر دي تحقيق کومه تحقيق غواړي
هره لار ده څلي پېښنه څه ده

دا سړی خو دومره هم نه ؤ بې صبره
کړي بې ځايه هلي ځلي پېښنه څه ده

ګناه ګار ته مجرم نه وائي مجرم خو
بې ګناه مي مجرم لولي پېښنه څه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼

رانه ورك دی لویه خدایه خپل دلبر چېري پیداکړم
چي پر ګوم لوري دی تللی مرور چېري پیداکړم

خپل واړه بچي په غېږ کي یوه کونډه دا فریاد کړي
چي نن شپه کړم په کي تېره داسي در چېري پیداکړم

خود مي خواره پښتنه په کورکي سترې ده چي وائي
خلاصوم ځان له چوپړه مقدر چېري پیداکړم

د راتلو امکان خو نشته زما دي حال حوال خو راوړي
د بېلتون په لار سفردی همسفر چېري پیداکړم

له مودو بېکي بندي یم په بند هیڅ راجوړه نه شوه
د خپل فکر له زندانه تېښتم ور چېري پیداکړم

مینه مروره شوه — عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

د خلګو په خدمت که مي جانان بد راته ګوري
نو خود به دټول کلي جا هلان بد راته ګوري

له لاري څخه چپ نه شې زما د خيال کاروانه
ورو ورو به ځې منزل ته رقيبان بد راته ګوري

دټولي نړۍ سترګي دي په ما او تا کي ګوره
د هر ټبر وګړي انسانان بد راته ګوري

باور لرم په ما به خپله لار بدله نه کړي
که هر څومره ملګري دشيطان بد راته ګوري

عبدالقادره راز مي دی په دغه تخلص کي
زه هغه مجرم نه يم چي اسمان بد راته ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ته هغه سړی یې ؟

بېخي له لري يې لاسونه وهل
چي ورنژدې شوم
نژدې ورغلم
مسکی شو راته و يې ويل
ته هغه سړی يې زه خطاخونه يم ؟
ښه حجره دې وه
مېلمانه دي وو
ټنګ ټکور وو
ته بالښت ته ناست وې زه خطاخونه يم؟
ښه ياران دي وو
ښه دوستان دي وو
ښه خپلوان دي وو
ټول پر تاراټول وو زه خطاخونه يم؟
بياچي مي وليدې ناروغه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پربسترپروت وي

بې روزګاره وي

✷✷✷✷

ځوك دي نه وو زه خطاخونه يم؟

ستاياران څه شوو

ستادوستان څه شوو

ستاخپلوان څه شوو

موردي ژړل ويل يې زه خطاخونه يم ؟

بيادي وينم ښه ياران دي

ښه دوستان دي

ښه خپلوان دي

ډلي ډلي زه خطاخونه يم ؟

زماپه خيال

كه اسمان دي دزمري په خوله كي وركي

د زمري په خوله كي مه پريږ ده  همت

خوشال وائي زه خطاخونه يم ؟

---

**مينه مروره شوه**

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


☼

# دځان ناروا

په څو مره خیال مي ځړولی و
عکس د شهید ورور پر دېوال د کوټې
ما وئیل زه به پرې خپل زړه سړوم
هم وو ښائست هم وو مشال د کوټې
☸
دا رنګه نور عکسونه هم وو هلته
چي هغه ټول زما نژدې خپلوان وو
هم وو په دې عکسو کي زما عکسونه
چي زما خوښ وؤ، هم و ما ته ګران وؤ

☸

خو یوه ورځ مي ته کوټې ته راغلې
زما ساده کچه حجرې ته راغلې
په دې عکسونو کي دې ښه وکتل
چي کله زما غریب خانې ته راغلې

☸

چي پېکښي ستا د خوښي خلګ نه وؤ
له تا یې ستا لاس نیوی نه غوښتلو
په خپله خوښه یې کار خپل کولو
وو خو مجبوره شی یې نه غوښتلو

---

مینه مروره شوه عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


۞

بـيا دي نو غاړي کړې تازه وئيل دي
دا اوس کوټه کــه بت خانه ده وروره
چي ټېکي شا وخوا عکسونه وينم
ســتا ســو عجــبه عقــيده ده وروره

۞

تــه لاخــبر نه يې تــر اوسه پـــوري
عکسونه څو مره ناروا دي وروره
دلته دې ځای ته فرشتې نه راځي
دا زموږ خلګ ، ډېر ګمرا دي وروره

۞

ما وئيل هو مشره صحيح وائې ته
سبا به ټوله تصويران سېځمه
تصوير د ورور تصوير د ځان سېځمه
د دې کوټې واړه بتان سېځمه

۞

تا وئيل دغه خو بس فرض دی زما
د حق په لاره خپل دوستان خبر کړم
ده وظيفــه زمـا د حــق وئلو
بايد چي هر يو مسلمان خبر کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


❁

خالي فرېمونه په د ېوال پاته شول
ما تصویران په اور کي وسېځلو
د ټوله ژوند ، هغه یاد ګار عکسونه
ماتېر دوران په اورکي وسېځلو

❁

خو یوه ، ورځ درته حیران شومه زه
سوچو کي غرق شوم پرېشان شومه زه
تا چي و ما ته نصیحت کړی و
هغه کي ورك شوم سرګردان شومه زه

❁

ستا په موټر کي سټ تصوېر را ټال وو
ور سره څنګ کي بل وزیر را ټال وو
بل دي د ښار د ګوند امیر را ټال وو
په ژړ ښائسته نري ځنځیر را ټال وو

❁

ورته لیکلي ؤ چي زموږ مشران
دي زنده باد وي زنده باد همېشه
الله دي ګوند له بدو سترګو ساتي
بیا به موږ هم یو په اباد همېشه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس فرشتې دلته راځي اوکنه

تا د سفر دعا ته پرېږدي اوکنه

له حادثې نه دي ساتي اوکنه

اوس دي لږ هم مدد کوي اوکنه

☸

ځکه مې تا باندې اوس شك شو پیدا

دا څه چې وائې هغه څله نه کړې

څنګه به ستا خبرې ومنمه

ته چې دا ښه کارونه خپله نه کړې

☸

تا به وئیل دي تصویران ناروا

دغه دي خاص لکه بتان ناروا

اوس دي په خپله خپل تصویر تاال کړی

اوس ولې نه وینې د ځان ناروا

(c) ketabton.com: The Digital Library


کـلـه چــي لــه مــوړه ښـخــه مینه مــروره شــوه
دادبــــدبــختۍ بـــلا لاشـــوره زوروره شــــــوه

اوس دکـــومي مځکي سپېلني ورته لوګی کړمه
خــدايــا کـورنۍ مي د ديوانو له نظره شـــــوه

مــاچـي د اوبـوپـه ځــای پـه اوښکواوبوله تل
نـه پـوهـېـږم ولـې وړه ولـي بـې ثـمـره شوه

تل يې مات بنګړي اومات منګی رانه تپوس کوي
ولــه پـېـغلـه ځه شوله چي ورکه له ګودره شوه

خاص لکه پر غوړلوښي چي تېري کړې سړې اوبه
داسـې دمـجـرم ولــره خـبـره بـې اثره شـوه

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library


هـــره دګـــورشــپـه چي زه پـرکورکوم
دا خــوزه لـــه مـــرګـــه دژونـــد پورکوم

نـوروتـه چـي رسـي پـرخپلې کورکلي
زه نــــوګـــتـه ولـــي دلاه ـــورکـــوم

رنـګ مـــذهب اونسـل تـه يي نه ګورم
قـــدربـــه ده ــــرژونـــدي دم ـــورکــوم

غـــوارمـــه لــه خـــدايـه شرم ـينده غماز
تـــل ورتـــه سوالونـــه پـه سـرتورکوم

څـــان بـه په زارۍ تـرې خلاصوم مجرم
زورمــــي پـه چــانـــه رسي چي زورکوم

✷✷✷✷

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**